انجنیر محمد داؤد اڅک

۱۴ فبروری ۲۰۲۴

## ستره لوبه پیچلې سوه

کله چی په ۱۸۱۳ میلادي کي د تزاري روسيي او فتح علی شاه قاچار تر منځ د اذربائيجان په ګلستان سيمه کي د ګلستان تړون لاسليک سو نو د ايران په شمال کي د ققفاز، اذربائيجان او د خزر بحيرې پر څنډو ځني سيمي رسماً روسانو ته وسپارل سوې. دغه تړون د روسيي لوی حريف بريتانوي هند ډېر په خبنم کی او سمدستي د روسيي د نور پرمختک د مخنيوي او منځنۍ اسيا ته د رسېدو په خاطر لاس پکار سو، او د افغانستان پر خوا ئي چي ډېره مهمه او ستراتېژيکه سيمه ده را ودانګل، څو وروسته د افغان او انګليس جنګونه پيل سول. يعني د غټو لوبغاړو لويه لوبه او نيابتي جنګ له همدغه وخته پيل سو چي متأسفانه مرکز ئي تر نن ورځي مظلوم افغانستان دی او دوی ئي په شخړو کي شکېل دي.

که څه هم چي په روسيه کي د اکتوبر تر انقلاب (۱۹۱۷م) وروسته نيابتي جنګ سوړ سو خو په (۱۹۴۰م) يعني د دوهم نړی وال جنګ په جريان کي بيرته هغه وخت تود سو چي شوروي او امريکا د جنګ وروسته د جهان پر ويش او شکل باندي توافق ونکړ. نيابتي جنګ وروسته دومره تود سو چي په ۱۹۴۹ميلادي کي د شوروي پر ضد ناتو او په ۱۹۵۵ميلادي کي د ناتو پر ضد وارسا تړون را منځته سو. اوس ټول شاهدان يوو چي نوموړو غټو لوبغاړو په بيلو زمانو کي په بيلو شکلو او بيلو نومو سره د خپلو جيو پالتيک، جيو ستراتېژيک او جيو اکانوميک اهدافو لپاره پر افغانستان بي رحمانه يرغلونه کړي او مظلوم افغان ملت ئي بدبخته او د جنګ کندي ته غورځولی دی. دا هم وينو چي نوموړو لوبغاړو کله يو او کله بل را غوزار کړی وي. مګر بيا هم د نوموړو پهلوانانو څخه يو هم ماته نه مني او د بلي سيالی لپاره ځان چمتو کوي. د دوی د غبږ ايستلو ميدان ډېر پراخ دی، کله چي په افغانستان کي د يوه پهلوان په بل باندي وس نه ورسېږي بيا نو د افغانستان د غچ اخيستلو په بدل کي د نړی په بل ګوټ کي يو بل ته لينګته اېږدي او کسات ځني اخلي. اوس به د شلمي پېړی له پيښو څخه تېر سو خو په ۲۱ مه پېړۍ کي چي امريکا په افغانستان کي د قوي لښکر سره په پوره زور باندي شل کاله تېر کړل او په منځنی اسيا کي ئي د مناس په شان پوځي اډې هم جوړي کړې خو بيا هم خپلو ټاکلو مؤخو ته ځکه نه ورسېده چي حريف ئي ورته بيدار وو او هره شېبه ئي د امريکا کړني څارلي. امريکا د خپلي دغه ناکامی د جبران او غچ اخيستو په خاطر اوکراين ضعيفه نقطه وبلل او د زرهاو کيلومترو ليري فاصلي څخه راغله او د روسيي تر ږيري لاندي ئي غوښتل چي دغه ستراتيژيکه نقطه چی روسانو ته حياتي ارزښت لري په ناتو کي شامله کړي څو روسيه تر فشار لاندي ونيسي، خو حريف ئي بيا هم بيدار وو او تر مخه ئي پر اوکراين حمله وکړه.

بېله شکه چي روسيي پدې حمله کي ځان د پيشي سره په جوال کي واچاوه، يعني دا جنګ نه ګټلای سي نه ئې پرېښولای سي. او پدې کار ئې حريف ته ښه غوا لنګه سوه، يعني په هره اندازه چي دغه جنګ اوږدېږي په هغه کچه د روسيي او اروپايي ملکونو اقتصاد او ثبات کمزوری کيږي. معلومداره چي روسيي د اوکراين جنګ ته ښه محاسبه نه وه کړې او تر دوه کاله جنګ وروسته متوجه سوه چي پدې جنګ کي ئې تر ګټي تاوان ډېر دی. نو پدې خاطر چي د اوکراين جنګ وګټي، يا ئې کم رنګه کي، پر امريکا او انډيوالانو ئې فشار واچوي او بل ځای ئې مصروفه کړي نو په منځني ختيځ په ځانګړي ډول په سره درياب کي ئې امريکا او انډيوالانو ته شخړه جوړه کړه او په عيني شکل ئې امريکا هم د پيشي سره په جوال کي واچول. اوس دواړه ستر لوبغاړي د پيشيانو سره په جوال کي لوېدلي دي. که چيري امريکا همداسي د پيشيي د مونګاچو سره مخ وي لکه په سره درياب کي پر امريکايي بېړيو د حوثيانو راکټونه، په اردن، عراق او سوريه کي پر امريکايي اډو باندي د ډرون وارونه... ليري به نه وي چي امريکا به د منځنی اسيا او روسيې د ناارامه کولو او تهديدولو په خاطر يو ځل بيا خدای نه کرده د خپلو افغاني او غير افغاني ګوډاګيانو په مرسته افغانستان وسيله کړي او د نيابتي جنګ په ميدان به ئې واړوي. که څه هم چي د سطرنج په لوبه کي آس، فيل، پياده... لوبېږي او قرباني کيږي خو فيصلې پاچهان کوي.

پايله دا چي: که زبر ځواکونه په رشتيا غواړي چي نړۍ په امن او ارامي کي ژوند وکړي نو بايد خپله استعماري غريزه (ځان غوښتنه، پراختيا غوښتنه، هر څه يا ډېر غوښتنه) کنترول کړي. يعني دغه د بشري حقونو او ديموکراسۍ ټيکه داران بايد انسانيت ته را وکرځي. معنا دا چي دغه مډرن انسان، اسمانو ته ختلی انسان او د اوبو تل ته کښته سوی انسان بايد د نړۍ هر مظلوم ولس ته د خپلو نازولو په سترګه وګوري، د نړۍ په ګوټ ګوټ کي بايد مظلومو انسانانو ته د انسان په سترګه وګوري، نه د وسيلې يا سونګ موادو په سترګه. منظور مي دا دی چي مظلوم او غريب ولسونه دي په يوه منصفانه تعامل کي پرېږدي چي خپل سرنويشت په خپله وټاکي، د خپل ژوند مسير په خپله انتخاب کړي. څو پدې صورت کي به هم نړۍ ارامه وي او هم به نړۍ وال د ميني په فضآ کي ژوند کوي. که ستر لوبغاړي داسي ونکړي او همدا د بالښتانو وارونه شروع وي ناممکنه ئې نه بولم چې يو واری به د دوی په پسته غېږه کي هم وموښلي. يعني کېدای سي چي د دغه نيابتي جنګ يو بڅرکی چي مظلوم او غريب ولسونه ئې قرباني دي د دوی وربښميني لمني ته هم ورسېږي او يو داسي ډز به ځني جګ سي چي هم به د مځکي کُره تهديد کړي او هم به ژوند تهديد وي. ځکه چي په ۲۱ مه پېړۍ کي به د زبر ځواکونو تر منځ جنګ د ستورو جنګ وي، چې يو بل به د فضآ څخه سره ولي.

د دې فضايي دريم نړۍ وال جنګ امکان د روسيي غښتلي ولس مشر ښاغلي پوتين په خپله مصاحبه کي چي په ۹ -۲ -۲۰۲۴ تاريخ ئې په مسکو کي د امريکايي خبرنګار (تاکر کارلسون) سره کړېده رد نکړ او د يوه سوال په جواب کي ئې داسي وويل:(تر څو چې د اوکراين سره کومکونه قطع نسي جنګ به روان وي، او که چيري امريکايي يا نور خارجي عساکر اوکراين ته د اوکراين په دفاع داخل سي دا به د نړۍ وال جنګ په معنا وي چې بشريت به له منځه يوسي).

لنډه دا چي اڅک هواباز وايي: اشرف المخلوقات بايد په پوره صداقت او پوره متانت سره ګډ او غښتلی داسي ګام پورته کړي چي د عادلانه صلحي ټينګښت، د نړۍ د انساني کېدو، د ميني خپرېدو، د حسادت، خود خواهی او تنګ نظرۍ د ورکېدو په لور وي، نه د جنګ، بد نيتی او بدبختی په لور.

درنښت

۱۳ ـ ۲ - ۲۰۲۴